یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ترهګري او اسلامي شريعت

**عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ،قَالَ: مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا**
**صحيح البخاري (۷۰۷۱)**

**له حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې پر موږ (مسلمانانو) وسله پورته کړي هغه له موږ څخه نه دی۔**

په دې مبارک حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د تحريک طالبان پاکستان خوارج ته اشاره کړې ده چې تش په نامه د اسلام پلويان دي خو د اسلامي دولت او بې ګناه مسلمانانو په وړاندې د جګړې په اعلانولو سره ترهګري خپروي او په لوی لاس د دوی لوی جنايتونه مسلمانان شهيدان وي جوماتونو ړنګول او د قرانکريم توهين کوي۔

**همدغه خوارجان بې ګناه ماشومان ځانمرګي بريدګر جوړوي او په عامه ځايونو او عبادتځايونو بريدونه کوي۔د تي تي پي خوارج حلال روزي ګټونکی غريب پوليس شهيدان کوي۔ د پښتنو له ولس نه په زوره بهتے اخلي او د خپلو شومو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د قبايلي سيمو د پرمختګ او سوکالۍ دښمنان کوي۔**

**پاکستان يو اسلامي دولت دی چې اساسي قانون او قوانين يې پر اسلامي احکامو ولاړ دي۔ د ټولو فقهاوو له نظره د اسلامي دولت پر ضد وسله واله مبارزه د شريعت له نظره ناروا او حرامه ده، چې علماوو په خپلو تازه فتواګانو کې ورته اشاره کړې ده**

د پاکستان دولت او امنيتي ادارې د قرآن او سنتو په رڼا کې د دغو خوارجو پر وړاندې مبارزه کوي او په ريښتيني معنا د جهاد ستر فريضه ترسره کوي، چې د ولس له بشپړ ملاتړ څخه وروسته يې له منځه يوسي۔ دوی به د پرمختګ او سوکالۍ سفر پيل کړي۔